DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

مونږ په هېواد کې ټولنیز عدالت او تل پاتې سوله غواړو

شمارهٔ: ۲۰

اووم کال - دویمه دوره، شلمه گڼه، پر له پسې گڼه ۱۰۴۴ د ۱۳۸۶ هـ ش د تلې ۱۰ ، د سه شنبې ورځ، د ۱۴۲۸ هـ ق د رمضان المبارک ۲۰ — 02 October , 2007

PROPERTY OF ACKU

رابرت گیتس وزیردفاع امریکا :

نیروهای ایتلاف درافغانستان با کمبود منابع روبه‌روهستند

امریکا در ادامهٔ دو جنگ در یك زمان مرتکب اشتباه شده است

ایسنا - وزیر دفاع امریکا در جمع گروهی از قانونگذاران دموکرات مجلس نماینده گان امریکا گفت با اشاره به جنگ عراق و عدم تمایل متحدان امریکا به مشارکت بیشتر نیروهای شان در این کشور گفت که ماموریت نیروهای ائتلاف در افغانستان با فقدان منابع روبه‌رو ست . به نقل از پایگاه انترنتی بلومبرگ، رابرت گیتس، وزیر دفاع امریکا هم چنین نسبت به این ص۴

تعیین جایزه برای کشتن قوماندانان طالبان

نیروهای ایتلاف تحت امر امریکا در افغانستان برای بازداشت و کشتن دوازده تن از قوماندانان طالبان و القاعده در افغانستان تا دوصد هزار دالر جایزه تعیین کرده اند. یک سخنگوی این ص۴

په لوګر کې دري دولتي کارکوونکي و تښتول شول

دري دولتي کارکوونکي ورمه ورځ د لوګر په ولایت کې د نامعلومو کسانو له خوا وتښتول شول. د رپوټونو له مخې تښتول شوي کسان د چرخ ولسوالۍ د څارنوالۍ او کرنې ادارو کارکوونکي وو چې کور ته دستندو پرمهال ۴مخ

په غزني کې ۱۱ تنه پولیس و وژل شول

په غزني کې سیمه ییز امنیتي چارواکي وایي د پولیسو پر هغه کاروان وسله والو طالبانو برید کړی چې اجرستان ولسوالۍ ته د عملیاتو له پاره لېږل شوی و د غزني د امنیت مشر محمد زمان وایي وسله والو طالبانو یې د پولیسو پر هغې سل کسیزې ډلې تېره ورځ (یکشنبه) برید وکړ چې سیمې ته د عملیاتو له پاره پر لاړې وو د ده په خبره په برید او په ورپسې جګړه کې یوولس پولیس وژل شوي دي. اجرستان د غزني یو له خورا ارامو ولسوالیو څخه و او وروستی برید په کې تر ټولو خونړی ګڼل کېږي.

نگرانی از فرار مغزها در تاجیکستان

بی سی سی - کارشناسان ضمن معرفی گزارش ویژهٔ بانک جهانی در بارهٔ وضع مهاجرت در کشورهای شوروی پیشین از گسترش روند "فرار مغزها" از تاجکستان اظهار نگرانی کرده اند. بانک جهانی این گزارش خود را روز گذشته، در شهر دوشنبه ارایه کرد.

به گفته برایس کویلین، کارشناس این موسسهٔ مالی بین المللی و مهتمم این پژوهش، مهاجرت کاری از تاجکستان به کشورهای دیگر در حال افزایش ص۴

گروگانگیری در جادهٔ کارگر تهران

بی سی سی - یک مرد مسلح در فروشگاهی در تهران اقدام به گروگانگیری کرد اما پس از مدتی تسلیم ماموران انتظامی شد.

براساس خبرهای رسیده از تهران، صبح روز دوشنبه، ۱ اکتوبر، یک مرد مسلح به اسلحهٔ کمری به یک فروشگاه لوازم خانگی واقع درجادهٔ کارگر شمالی وارد شد و با شلیک چند گلوله، صاحب فروشگاه را به گروگان گرفت.

پس از آغاز این گروگانگیری، ماموران پولیس فرزند مرد مسلح را به محل آوردند و او توانست پدر خود را قانع کند تا تسلیم پولیس شود.

به گزارش خبرگزاری ایسنا - علت این گروگانگیری اختلاف شخصی بین شخص گروگانگیر و صاحب

فروشگاه لوازم خانگی بوده است.

بر اساس این گزارش، مرد گروگانگیر با شلیک سه گلوله گروگان خود ص۴

د ملګرو ملتونو له همکاری پرته تصمیم نشو نیولای :

محمد معین مرستیال

دکندز ولایت استازي په ولسي جرګه کې محمد معین مرستیال

ملګري ملتونه غواړي د دولت او طالبانو ترمنځ په خبرو کې منځګړیتوب وکړي. په دې اړه مو په ولسي جرګه کې د کندز ولایت له استازي ښاغلي محمد معین مرستیال سره مرکه کړې ده ، تاسو محترمو لوستونکو ته یې وړاندې کوو.

پ: - ښاغلی مرستیال صاحب! لکه څنګه چې ملګرو ملتونو اعلان کړیدی چې د طالبانو او دولت ترمنځ به د خبرو منځګړیتوب وکړي تاسې دا موضوع څنګه ارزیابي کوئ؟

ځ: - لومړي باید ووایم چې افغانستان په اوسني وخت کې په داسې ټولنه یا هیواد بدل شوی دی چې مونږ نشو کولای د نړیوالې ټولنې په تیره بیا د ملګرو ملتونو د سازمان له همکاری او ملاتړ پرته په ځانګړې ډول له ګاونډیو هیوادو سره د خپلو سیاسي، اقتصادي اړیکو په ارتباط یو خپلواک تصمیم ونیسو نو مونږ هم د نړیوالې ټولنې مرستې ته اړتیا لرو. کله چې په افغانستان باندې د شوروي اتحاد یرغل و شو په بیلابیلو پراوونه کې جګړو دوام پیدا کړ خو جګړو هیڅ نتیجه ورنه کړه. ځینو افغانانو په همغه وخت کې دا هم ویل چې د افغانستان ستونزه د ملګرو ملتونو، اسلامي کنفرانس او نړیوالې ټولنې له لارې حل شي خو ځینو بیا په جګړه ټینګار کولو او ویل یې چې پوځي لاره زمونږ ستونزې حلولی شي او له دې نه پرته بله لار نشته. خوداخوبونه د دوی رښتیانه شول، په پای کې هغه مسئله د روغې جوړې او بین المللي ټولنې له خوا چې اخري لاره یې د بن کنفرانس و، حل شوه چې د هغو جګړو لړې یې بنده کړه. نو زه فکر کوم چې بیا هم که په افغانستان کې مونږ خپلمنځي ستونزې لرو یا د بهرنیو هیوادونو د ځینو افرادو او ګروپونو په وسیله په افغانستان کې لاس وهنې تر سره کیږي بیا هم مونږ د نړیوالې ټولنې همکاری ته اړتیا لرو.

پ: - مرستیال صاحب! ایا ملګري ملتونه به په خوبنه دې منځګړیتوب ته حاضر شوي وي او که به د دولت له خوا ۴مخ

تر خبرو مخکې باید اوربند وشي

پاچاخان خدران



دپکتیا ولایت استازی په ولسی جرګه کې پاچا خان څدران

ګرانو لوستونکو! داځل مو په ولسي جرګه کې د پکتیا له وکیل حاجي پاچا خان څدران سره مرکه کړېده او تاسې یې لوستو ته رابولم.

پ: - ښاغلی څدران صیب! داسې ویل کیږي چې د افغانستان په کورنیو چارو کې ایران او روسیه لاسوهنې کوي په دې اړه ستاسو نظر څه دی؟

ځ: - دا چې نېږدې درې لسیزې په افغانستان کې کوم جنګونه، ورانۍ، مخالفتونه او هر څه ستونزې را پیدا شوي دي دا ټول د شوروي اتحاد د لاسوهنو زېږنده وه. اوس هم روسیه له پخوانیو عملونو اولاسوهنو څخه لاس په سر شوې نه ده او په افغانستان کې خپل ملګري لري، تر خپله وسه زیار باسي چې په افغانستان کې د خپلې خوښې حکومت جوړ کړي ، په اوسني وخت کې نور هم کوشش کوي چې په افغانستان کې ستونزې جوړې کړې ځکه چې روسیه په دې پوهېږي چې امریکا یو لوی ځواک دی که چېرې په افغانستان کې پاتې شي نو زمونږ له پاره به ډېرې ستونزې جوړې کړي. روسیه غواړي چې په افغانستان

۲ مخ

سر مقاله

گسترش روز افزون فقر

باگذشت هر روز اوضاع نظامی، سیاسی، اقتصادی و اجتماعی کشور بیش از پیش بغرنج و پیچیده ترمی گردد

در وضع زنده گی مردم بهبود اساسی که مبنی بربازسازی نهادهای اقتصادی باشد ، بوجود نیامده است،مردم ما کماکان درگیرمشکلات اقتصادی بوده وبا آن پنجه نرم مینمایند .

دولت موجود که اصلا استراتیژی دقیق و روشن سیاسی، اقتصادی و نظامی ندارد بناً در رشد صنایع و اقتصاد کشور نمی تواند موثریت داشته باشدو هرگز قادر به جلب، تشویق وحمایت سرمایه گذاری خصوصی در کشور نخواهد شد .

قسمت اعظم مساعدت های جوامع بین المللی، حیف ومیل انجوها، باندهای مافیایی و سردسته های گروه های مسلح و مقام های بی کفایت دولتی و قاچاقبران مواد مخدرگردیده است. رشوه، اختلاس، بد امنی، فقر، بیکاری، قیمتی، فساد اداری، بیسوادی، آواره گی و صد ها مصایب دیگر درکشور، بیداد می کند . سؤ استفاده از سیاست اقتصاد بازار آزاد، خصوصی نمودن و انحلال تصدی های دولتی و عدم موفقیت درجلب سرمایه گذاری های خصوصی داخلی و خارجی همه و همه موجب ورشکستگی بیش از حد تاسیسات دولتی را فراهم نموده اند .

علاوه براین ، یکی از اساسی ترین مشکلات دراین راستا فقر وبیکاری است که هر آن جامعه و مردم ما را به طُرق گوناگون تهدید می کند .

طوریکه امروز به نظر می رسد با وجود سرازیر شدن انبار هایی از دالر و یورو از طرف جوامع بین المللل به این کشور و وجود حمایت وسیع و همه جانبهٔ آنها از دولت موجود، دولت با آنهم نتوانسته است در موارد مختلف گام هایی بردارد که به گونه یی پاسخگوی مشکلات مردم در زمینه باشد .

موجودیت گستردهٔ فقر و بیکاری که به مثابهٔ مادر تمام مشکلات اجتماعی پنداشته می شود همین اکنون باشدت بیش از تصور، جامعه و کشور ما را تهدید می نماید.

گرافِ فقر و بیکاری همانند عرصه های دیگر در کشور، نه تنها کاهش نیافته است بلکه روز تاروز سیر صعودی خود را می پیماید. امروز بیشترین نسل جوان ماحتا جوانان تعلیم یافته و فارغان دورهٔ پوهنتون های کشور از این ناحیه رنج می برند. قرار یک احصاییهٔ رسمی از حدود ۲۰ هزار فارغی که پوهنتون ها و موسسات تحصیلات عالی کشور طی ۵ سال گذشته به جامعه تقدیم داشته اند، صرف ۴۷۰۰ تن از آنها تا کنون توانسته اند به مشاغل دست یابند و باقی ۱۵ هزار دیگر، به سبب نبود شغل و وظیفه در داخل کشور، یا به کشور های همسایه مهاجر شده اند و یا هنوز هم در رنج بی کاری و فقر به سر می برند.

بایدگفت فقر و بیکاری از جملهٔ پدیده هایی اند که می توانند در کوتاه مدت وضعیت و حالت ثابت یک کشور را به به سوی بی ثباتی و ناامنی بکشانند، اکثر کشور های که امروز دامنگیر بی ثباتی، ناامنی و تشنج اند، در واقع از وضعیت اقتصادی مناسبی برخوردار نبوده اند و در نتیجه، وجود همین وضعیت ناگوار اقتصادی، سبب بروز اوضاع ناهنجار سیاسی و امنیتی گردیده است.

از آنجاییکه اوضاع و حالات کشور ما گذشته از این، از توازن و تعادل سالم برخوردار نبوددر ضمن برخی عناصر داخلی و خارجی فرصت طلب، درکمین اند تابا استفاده ازحالت موجود اوضاع کشور را پرآشوب سازند. بنابر این مقام های عالیرتبهٔ دولتی و مسوولان امور، باید مشکل مردم را به صورت جدی مورد توجه قرار داده و در رفع آن هر چه زودتر و بیشتر کوشا باشند، راه های سالم بیرون رفت از این مشکل را جستجو و در میدان عمل پیاده نمایند تا باشد که از یکسو جامعه را از فقر نجات داده باشند و از سوی دیگر به وضعیت بیمار کشور ثبات بخشیده و پیام آور آرامش واقعی در جامعه شوند. و از یک فاجعه احتمالی جلوگیری بعمل آورده باشند.

جگړه زمونږ درد دوا کولای نشي

د ۱۳۷۵ کال د ثور تراوومې پورې زمونږ هیوادوالو د جنګ او جګړې فرهنګ نه پیژنده خو له دې نېټې او بیا زمونږ پرخاوره باندې د شوروي اتحاد له یرغل وروسته د هیواد په ګټو سیمو کې د جګړو اورونه بل شول د شوروي اتحاد یرغلګرپوځ چې له کلونو جګړو وروسته مات او ځانته یې د تښتې لاره پیدا کړه نو یرغلګر پوځ زمونږ له خاورې څخه سرماتی او غابنې ماتی ووت او خپلې پښې یې سپکې کړې خو د جګړې سکروټې یې زمونږ په هیواد کې تازه وساتلې کورونه، کلي او باندې د جګړو په دوران کې ورانې شوې او نور ښارونه او له هغو څخه کابل ښار بیا د قدرت غوښتونکو اوپه قدرت باندې د خپلې اچوونکو ترمنځ د جنګونود شنولوخړو په سرو لمبو کې نینې نینې شوا و دنګې دنګې ودانۍ په کنډوالو بدلې شوې په دې ترڅ کې د طالبانو تحریک سر راپورته کړ او د ټوپک سالارانو د قدرت سالارۍ د څلورلو او د سولې او آرامۍ د ټینګولو په نیت یې ګام پورته کړ. لومړی د دغه ګام څه نا څه هر کلی وشو خو وروسته دغه ګام هم ډیرې ورانۍ او خونړۍ جګړې له ځانه سره لرلې، ډیر کورونه وران او ډیرې کروندې په شاړو، خمکو بدلې شوې، په هیواد کې د ننه او له هیواد نه بهر افغانان د پر له پسې جنګونو له املې وکړېدل ، هر څوک راغلل، حکومت یې وکړ او پر بې ګناه افغانانو یې د ظلم اوستم چپه میچنې وګرځولې، هر یوه خپل دوران تیر کړ او د خپل دوران ترخې خاطرې یې د تاریخ پاڼوته وسپارلې خو کله چې د بن د جرګې د پریکړو د بهیر وار راورسید ټول هیوادوال په دې تمه وو چې نور به ضرور د هیواد په ګوټ کې د ټوپک ډز وانه وریدل شي، سوله به وي، مینه به وي،یووالی به وي، ودانۍ به وي، رغول او پخلاینه به وي، وطن به وي، وروري به وي او د افغان کډوالو د هجرت دوران به ختم شي. د موقتي اداري، د قدرت د لیږدونې پرڅو او انتخابي دوران پیل او تیر شو خو د ټولو هیواد والودهیلو او انګیرنو پر خلاف جنګونو او جګړو هماغسې دوام وکړ په لویدیځو، جنوب لویدیځو، جنوبی، جنوب ختیځو، ختیځو او شمال ختیځو سیمو کې جګړې ډېرې ګړندۍ شوې ورانیو او وژنو خپله لمن پراخه کړه او د هیواد په نورو سیمو کې هم د سپکو او درنو وسلو ډزو ځمکې او غرونه ولړزول، د غوټولو جنګونو او جګړو ډیربې کسه او بې وسه انسانان ووژل، ډېر کورونه یې وران کړل، په ډیرو ځوانانو یې مینډې بورې کړې، ډیرې مېرمنې یې کونډې کړې، ډېر بچیان یې یتیمان کړل او لا هم وینو ته د تړو کسانو تنده نه ده ماته شوې او لګیا دي د جګړو اورونوته لمن وهي، د افغانانو ترمنځ نوکونه ټکوي، د یوبل په ککړیو ګوزارو نه کوي. نن هر څوک ان د جګړو اړخونه هم له جګړو څخه بیزاره دي په جنګونو او جګړو کې ستړي شوي او هر یوه چې په خپل ګریوان کې سر ټیټ کړ نو دې نتیجې ته ورسېدل چې رښتیا جنګونه او جګړې زمونږ کوم درد دوا کولی شي؟ جنګ او جګړه به څنګه زمونږ په هیواد کې سوله راولي او څنګه به زمونږ ورانې کنډوالې بیرته جوړې کړي؟ ټول پر جنګ او جګړو لعنت وایي او په جګړو کې ژوند کولو ټول غټ او واړه، نر او ښځې ، ستړي کړي دي.

راځئ چې سره یو شو او هر چېرې چې یو ، یوبل ته لاسونه ورکړو ، نوروته ستر ګې په لار پاتې نشو په هیواد کې د جنګونو او جګړو د ختمولو له پاره کار وکړو خپلې وسلې لرې وغورځوو اوپه هیواد کې د سولې، ودانۍ، او بیا رغونې پرڅو پیل کړو. هغه کسان ښه وپیژنو چې د دوستانو په نامه زمونږ دښمنان او دښمنۍ له پاره کارکوي او دیوې مور بچیان په خپلو کې سره جنګوي هغوی خپلو ګټو او خپلو ارمانونو ته ګوري ، د خپلو شومو ارمانونو له پاره افغانان سره جنګوي، راځئ چې د جګړو او جنګونو پر خلاف ستړي هڅې پر کار واچوو او نور د چا له خوښې څوک وانه وري چې جنګونه او جګړې زمونږ درد دوا کولی شي

متین خوږیانی

تر خبرو مخکې باید....



کې خپل ملګري بیا پیاوړې کړي ځکه له هغوی سره پخوانۍ اړیکې لرې او خپلې موخې د هغوی له لارې په ښه توګه مخ ته بیولای شي خوپه ترڅ کې له دغو نورو مخالفو ډلو سره هم مرسته کوي.

پ:- داسې ګنګوسې هم خپرې شوي دي چې ایران او روسیه د دولت او طالبانو د خبرو مخالفت کوي ستاسو په اند د دوی ار موخه څه ده ؟

ځ:- نه دا چې ایران او روسیه د خبرو اترو مخالفت کوي بلکې دوی له مخالفینو سره مرسته هم کوي له دې څخه د ایران ار موخه دا ده چې امریکا په افغانستان کې ماته وخوري. ځکه دامریکا شتون په افغانستان کې د ایران له پاره ستر ګواښ دی بیا په داسې وخت کې چې امریکا پر ایران باندې د برید له پاره لارې چارې لټوي.

پ:- ښاغلی وکیل صیب! ځینې خلک د کابینې په دننه کې شته چې د دولت اوطالبانو ترمنځ د خبرو اترو مخالفت کوي. ستاسی په اند ددې کسانو د مخالفت لامل څه دی؟

ځ:- زما په اند خو داسې ښکاره خبره چا نه ده کړې چې ګوا کې مونږ له طالبانو سره د خبرو اترو مخالف یو. که چاویلي هم وي نو هغه کسان به هم کوم دلیل لري یعنې دا چې هغوی به دا ویلي وي چې طالبان په کومو شرطونو له دولت سره خبرو ته کښېني شاید د ځینو شرطونو مخالف وي نه د خبرواترو. ځکه چې د حل لاره همدا خبرې اترې دي او له بلې خوا د خبرو اترو یادونه د وزیرانو په شورا کې هم و شوه. ټولو دا خبره ومنله چې له طالبانو سره دې د قانون په چوکاټ کې خبرې وشي.

زما په نظر که چېرې دولت او طالبان غواړي چې په خپل منځ کې سوله وکړي نو باید یو پر بل باندې شرطونه و نه مني او که چېرې خبره د شرطونو شوه نو په دې صورت کې سوله را تلای نه شي.

پ:- که چېرې څه شرطونه موجود نه وي نو بیا جنګ ته څه اړتیا پیدا کېږي؟

ځ:- زه خو په دې اند یم چې د شرطونو اړتیا نشته شرطونه باید منځ ته وانه ټول شي. ځکه که شرطونه منځ ته راځي نو سوله منځته را تللای نه شي او هېڅوک د چا شرطونه منلای نشي نو که طالبان غواړي چې له دولت سره خبرې وکړي شرطونه دې نه ایږدي اورادې شي له دولت سره دې سوله وکړي. بیا نو که چا د وزارت کارونه مخ ته بیولای شول هغو ته به وزارت ورکړل شي او که ریاست نو هر چا ته به د خپل استعداد په تناسب کار ورکړل شي.

پ:- که طالبان وغواړي چې مونږ په یوه شرط خبرو ته کښېنو هغه دا چې دولت د زمونږ د امنیت ذمه واري وکړي ، ایا دا شرط هم د منلو وړ نه دی؟

ځ:- اول خو که دوې ډلې خبرو ته کښېنې باید په خپل منځ کې اوربند و کړي او جنګ دې نه کوي همدا اوربند خپله دې ته لاره هموار وي چې دواړه خوا وې د په امن کې شي، دې خبرې ته اړتیا نشته چې یوه ډله ووایي چې زما امنیت دې ونیول شي خو دا اوربند په خپله د دې څرګندویې کوي چې دواړه ډلې اوس یو او بل ته زیان نه رسوي بلکې په یوه فضا کې سره ژوند کوي. که دوی یو پر بل بدګماني کوي نو دې ته سوله او ناسته نشو ویلای.

پ:- د طالبانو او دولت ترمنځ دملګرو ملتونو د منځګړیتوب په اړه ستاسو اند څه دی؟

ځ:- ملګري ملتونه هم په اصل مطلب پوه نه دي چې ګوا کې طالبان څه غواړي او کوم شرطونه لري چې له دولت سره خبرو اترو ته کښېني. د طالبانو خو لومړی غوښتنه دا ده چې بهرني ځواکونه دې له افغانستان څخه ووزي بیا به په خپل منځ کې خبرې کوو نو ملګري ملتونه د دوی دا شرط مني؟

زما په نظر تر څو چې اوربند و نه شي خبرې نه شي کېدای اول باید اوربند و شي ځکه له دې پرته عام خلک هم باور نه شي کولای چې هلته جنګ وي خلک مړه کېږي او دلته د سولې او روغې خبرې کېږي.

ورزش ضامن تندرستی

متصدی صفحه: احمد علی (علی)

ورزش برای بدن انسان نهایت مفید بوده و فواید ورزش و فعالیت بدنی منظم برای سلامتی بدن ما نهایت زیاد است.حداقل ۳۰ دقیقه فعالیت بدنی متوسط به گونهٔ مثال پیاده روی سریع،برای بدست آوردن بسیاری از این اثرات کافی است،گر چه با افزایش سطح فعالیت،فواید آن نیز افزایش می یابد.ورزش و فعالیت بدنی منظم: خطر مرگ و میر قبل از بلوغ را کاهش میدهد. خطرمرگ و میر ناشی از بیماریهای قلبی یا سکتهٔ مغزی را کاهش می دهدکه مسوول یک سوم تمام مرگ ها هستند.خطر ایجاد بیماری های قلبی یا سرطان روده ها را تا ۵۰ درصد،کاهش میدهد.خطر ابتلا به دیابت(شکر) نوع ۲ را ۵۰ درصد کاهش میدهد.خطر احتمال ابتلا به فشار خون بالا را که یک پنجم جمعیت بالغ دنیا با آن دست و گریبان اند، کاهش میدهد.به پیشگیری یا کاهش استیوپروز کمک میکند،خطر شکستگی لگن خاصره را تا ۵۰ درصد در زنان کاهش میدهد.خطر ایجاد دردهای ناحیهٔ کمر را کاهش میدهد.باعث بهبود حالت روحی وروانی می شود. اضطراب،فشار روانی و احساس افسرده گی وتنهایی را کاهش میدهد.کمک میکند تا از عادت های خطرناک مثل مصرف سگرت،الکول و سؤ استفاده از مواد مخدر و رژیم غذایی بد و خشونت به ویژه در کودکان و نوجوانان جلوگیری شود. ورزش وزن بدن را تنظیم کرده و خطر چاقی را ۵۰ درصد نسبت به افراد بی



تحرک کاهش میدهد. در ساختار استخوانها،عضله ها و مفاصل سالم و درمان حالت های دردناک مثل دردکمر و درد زانو کمک کند. چنانچه به اثبات رسیده فعالیت بدنی مثل پیاده روی، بایسکل سواری و بازیهای مختلف باعث می شود شما احساس خوبی داشته باشید ولی ورزش و فعالیت های بدنی منظم فواید دیگری نیز دارد.این کار نه تنها باعث بهبود و حفظ سلامت می شود، بلکه اثرات مفید اقتصادی و اجتماعی خود رانیز دارد. فعالیت بدنی منظم به کشورها و اقتصاد کمک میکند تا بودجه های اختصاصی برای مراقبت های صحی کاهش یابد،تولید افزایش یابد،وضع مکاتب بهتر شود، غیبت از محل کار و تعویض شغل کمتر گردد و مشارکت در ورزش و تفریح های سالم افزایش یابد.در بسیاری کشورها،بودجه و مصارف درعرصهٔ صحت به علت نبود فعالیت بدنی و چاقی بالاست.با لاخره جامعه یی که درآن ورزش و فعالیت های منظم بدنی معمول و انکشاف یافته باشد ، دارای افراد کا را بود ه که در پیشبرد امور جامعه و کشور موثر و مثمر می باشند .

رویدادهای مهم ورزشی

پنجاه و پنج نامزد جایزه بهترین بازیکن فوتبال سال ۲۰۰۷ از بین چهل و پنج هزار بازیکن

فدراسیون بین‌المللی فوتبالیست‌های حرفه‌یی(FIFPro) فهرست نامزدهای دریافت جایزهٔ بهترین بازیکن سال ۲۰۰۷جهان را از میان ۴۵هزار بازیکن عضو ۴۲ سازمان بازیکنان حرفه یی در سراسر جهان اعلام کرد.

در این فهرست تیم فوتبال بارسلونا ۱۰ نماینده و قهرمان اروپا یعنی آث میلان ۹ نماینده دارد.

این بازیکنان براساس عملکردشان در مسابقات فصلی ۲۰۰۷و۲۰۰۶ انتخاب شده‌اند.

تیم بارسلونا در این فهرست ۸ بازیکن از فصل گذشته دارد و دو بازیکن دیگر نیز در تابستان به این تیم پیوسته اند.

این بازیکنان "کارلوس پویول" ، "آندره اینستا" ، "ژاوی هرناندز"، "جیانلوکا زامبروتا"، "دکو"، "مسی"، "ساموئیل اتویو" و "رونالدینیو" و همچنین "اریک آبیدال" و "تیه‌ری هانری" هستند.

تقریبا تمامی نامزدها در مسابقات فصل گذشته اسپانیا، انگلستان و ایتالیا بازی کرده‌اند به طوریکه لیگ برتر انگلیس ۲۰نماینده، لالیگا ۱۷نماینده و سری آ ۱۵نماینده در این فهرست دارند.

در حالیکه بارسلونا با ۱۰نماینده در صدر فهرست دروازه‌بانان: جیان لوییجی بوفون (ایتالیا، یوونتوس)، ایکر کاسیاس (اسپانیا،رئال مادرید)، پیتر چک (جمهوری چک،چلسی)، دیدا (برزیل،آث میلان)، ادوین فان درسار (هلند،منچستریونایتد).

ماریا شاراپوآ و صدمهٔ شدید

شاراپوآ زن شماره ۴ تنیس جهان در پی اوجگیری صدمه یی در ناحیه شانه راست، از حضور در رقابت‌های آزاد اشتوتگارت محروم شد.

پس از این شکست بانوی شمارهٔ ۳۰ جهان در آزاد امریکا، این بار مقابل هم پذیرای شکست شد تا چانس درخشش در آلمان را نیز از دست بدهد.

مقامات برگزاری مسابقات تنیس آزاد اشتوتگارت آلمان از شاراپوآ خواسته اند هر طور شده، حتا به صورت میهمان در این میدان حضور داشته باشد تا حامیان مالی سرمایه های خود را خارج نکنند.

رقابت‌های آزاد اشتوتگارت ۴ روز بعد در جنوب این شهر آغاز می شود.

دستگیری کارمبو به دلیل درگیری فزیکی

به نقل ازروزنامهٔ پاری مچ فرانسه، کریستین کارمبو، ستارهٔ سابق تیم ملی فرانسه به جرم برخورد فزیکی در نزدیکی برج ایفل دستگیر شد.



این چهره پیشین فوتبال فرانسه به خاطر درگیری فزیکی با یک تهیه کننده تلویزیون، از سوی پولیس باز داشت گردید. براساس این گزارش، و اظهارات عابرین کارمبو وقتی در نزدیکی برج معروف ایفل به مشاجرهٔ لفظی پرداخت، شروع به زد و خورد با این تهیه‌کننده کرد. حاضرین در محل اظهار کردند، وقتی کادوچه زیر مشت و لگد کارمبو قرار گرفت، برای رهایی از دست این ستارهٔ سابق فوتبال، به دفاع از خود پرداخت که لحظاتی بعد پولیس شهر پاریس او را دستگیر کرد. هنوز علت این مشاجره و درگیری فزیکی مشخص نشده است.

مسابقات موتر رانی فورمول یک و قهرمانی همیلتون

همیلتون انگلیسی از تیم‌موتر رانی مک لارن مرسدس به گزارش خبرگزاری فرانسه ، همیلتون انگلیسی از تیم مک لارن مرسدس توانست از فرناندو الونسو رقیب هم تیمی خودش که تاکنون دوبار عنوان قهرمانی این رقابت ها را کسب کرده است پیشی بگیرد و به روز یکشنبه ۳۰ سپتامبر ۲۰۰۷ عنوان قهرمانی مسابقات فورمول یک جایزه بزرگ‌جاپان را از آن خود نماید. همیلتون ۲۲ ساله ، ۸ ثانیه زودتر از هایکی کووالاینن فنلاندی از تیم رنو به خط پایان رسید و کیمی رایکونن از تیم فراری نیز سوم شد.احتمال دارد این راننده ۲۲ ساله سیاه پوست در مسابقات فورمول یک جایزه بزرگ چین که یکشنبه آینده در شانگهای برگزار می شود به کسب عنوان قهرمانی نایل شود.

تخار دکانگفو په سیالیوکې لومړی مقام ترلاسه کړ

تخار د شمال ختیځ ولایتونو دکانګفو په سیالیو کې د ۱۴۴نومرو په ګټلو سره لومړی مقام ترلاسه کړ.

دغه سیالۍ، چې د وړې په ۲۴ مه کندوز ولایت کې پیل شوې وې،تېره اونۍ، د تخار په بریا سره پای ته ورسېدې.

دکندوز ولایت د ورزشي امریت دمسوولینوپه خبره په دغو سیالیو کې د بدخشان، تخار، کندوز او بغلان د کانګفو ۲۰ تنو لوبغاړو ګډون کړې و.

چې په ترڅ کې یې تخار ولایت د۱۴۴ نومرو په ترلاسه کولو سره لومړی، کندوز په ۴۴ نومرو سره دویم، بغلان په ۱۰ نومرو سره دریم او بدخشان دپنځو نومرو په اخیستو سره ځلورم مقام ترلاسه کړ.

روزنامه ملی اراده
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خود شان مربوط است

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۳) افغانی
سالانه: ۱۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۶۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۲۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۲۰ دالر امریکایی

روزنامهٔ ملی اراده
مرکز نشراتی افغان
موسس و صاحب امتیاز:
حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: فضل الرحمن اوریا
موبایل :99 83 20 0798
معاون: خادم احمد
موبایل: 05 62 59 0700
مهتمم : اسناد پوهنیار جاویده احمدی
ادیتور پشتو: سهراب دیدار
موبایل :0700222726

خبرنگاران :
سیدالرحمن سالار – 077 440 8507
علم جان پنمل – 0799412943
کمپوز: برشکی حنیفی
دیزاین: محمدجمیل احمد
مسوول توزیع و بازار یابی : عبدالسمیع
موبایل : 0700 24 43 84
آدرس : دهمزنگ، عقب بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل ادرس : Daily.erada@yahoo.com
پست بکس : 304

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Fazal Rahman Oriya
Mobile: 0798208399
Collector: Jawida Ahmadi
Pashto Editor: Suhrab Dedar
Journalists: S.salar & Alam Jan patmal
Mobile: 077 44 08 507
Composer: Breshkay Hanifi
Designer: M.Jamil Ahmad
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: Daily.erada@yahoo.com
Post box: 304

دملګرو ملتونو له همکاری پرته ....

کوم وړاندیز ورته شوی وي؟

څ: - دواړه مسئلې تر غور لاندې دي، یو خو دا چې د افغانستان حکومت په تیرو شپږو کلونو کې په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې او افغانانو هیله سر ته و نه شوه رسولای یعنې چې په افغانستان کې امن راشي، خلکوته کار پیدا شي بیا رغاونه پیل شي او هغه مهاجرین چې په پردیو ملکو کې ژوند کوي هغه خپل وطن ته راستانه شي برخلاف بې امنې لا زیاته شوه، خلکوته کار نشته، خارجي اوداخلې ستونزې نورې هم زیاتې شوې او په حکومت کې د ننه د اداري فساد قانون ماتونې او د خلکو د حقوقو ترپښو لاندې کولو په نتیجه کې نور هغه افغانان چې دوی بهر څخه خپلو کورونو ته راغلل هغوي هم ناراضه شول د خلکو او حکومت ترمنځ واټن نور هم زیات شو.

او له بلې خوا د نړیوالې ټولنې کوم څواکونه چې په افغانستان کې موجود دی دوی په اوله مرحله کې د بن په کنفرانس کې د طالبانو موجودیت له نظرو ایستلو او هغوی یې له منځه تللې وګڼل اما په دې نه پوهیدل چې دوی به بیاسره منظم شي او د دې سره د حکومت

خلك دي له صحني څخه وباسي نو زه فکر کوم چې اوس طالبان او دولت په دې پوه شوي دي چې جنګ یوازې د ولسونو څوروړل او د وطن ورانې ده.

نو باید ستونزه د خبرو له لارې حل شي نو زه هیله لرم چې طالبان دې همدا وړ منځګړیتوب ومني او په دې خاطر یې ومني چې دوی هم له مشکلاتو سره مخامخ دي. مشکلات په دې معنا نه چې طالبانو ماتې خوړلې، ماتې یې نه ده خوړلې بلکې د دوی د نظامي عملیاتو په نتیجه کې بې ګناه خلك څوریږي نو په دغه حالت کې طالبان هم حاضر شول چې د بې ګناه خلکو د وژلو د مخنیوي په خاطر یوه روغه جوړه رامنځ ته کړي.

پ: که څه هم طالبان د ملګرو ملتونو منځګړیتوب ومنې خو دوی څه شرطونو وړاندې کړي ایا ستاسو په نظر به ملګري ملتونه د دوی شرطونه ومني؟

څ: زه فکر کوم چې اول له کښیناستونه مخکې طالبان باید دا شرطونه وړاندې نه کړي که شرطونه وړاندې شي نو بیا ناستې او روغې جوړې ته زمینه نه برابریږي، اول باید ناسته رامنځ ته شي خبرې اترې پیل شي د خبرو اترو په نتیجه بیا کیدای شي دواړه خواوې خپل شرطونه ووایي.

نو زما په نظر باید طالبان خبرو ته لاره هواره کړي او وروسته بیا خپل شرطونه واړاندې کړي هغه هم داسې شرطونه چې د هغو منل ممکن وي. لکه څنګه چې دوی وایي چې خارجي قوتونه دې ووزي، پارلمان دې رنګ شي او ولسمشر دې استعفا وکړي داشرطونه خو افغانستان بیا هغه حالت ته بیایي لکه څنګه چې د استاد رباني په حکومت کې و نو څکه په افغانستان کې د یو محدود وخت له پاره د نوړې بې پروایې به هم د دې سبب شي چې دیر خلك د طالبانو سره یوځای شي.

لکه څنګه چې دوی اټکل کړی و هغسې نه شول نړیوالې ټولنې هم دا درک کړله چې د افغانستان د حکومت قانون ماتونې او په اداراتو کې د فساد موجودیت د دې باعث شو چې د خلکو واټن له دولت سره زیات کړي نو نړیواله ټولنه وپوهیده چې یو د طالبانو قدرت ورځ په ورځ پیاوړی کیږي او له بله پلوه د حکومت ضعف د دی باعث شو چې طالبان زیاد او لا پیاوړي کړي نو همدا لاملو نه شول چې هم د افغانستان دولت او هم نړیوالې ټولنې دا ښه وګڼله چې باید دافغانستان مسئله د خبرو له لارې حل کړي او دټوپك له لارې هیڅکله شونې نه ده چې د لوی قدرت یعنې طالبان چې نور خلك هم ورسره دریدلي دي له منځه لاړ شي.

پ: که چیرې طالبان د ملګرو ملتونو وړاندیز قبول نه کړي نو ستاسي په نظر به څه پایلې ولري؟

څ: اول خو زه هیله مند یم چې طالبان باید دا وړاندیز ومني او که یې و نه منې پایله او نتیجه د افغانستان له پاره جګړه ده اما تر کومې اندازې چې موږ مطالعه کړي او له حالاتو څخه څرګندیږي طالبان هم په اوسنیو شرایطو کې دې ته حاضر شویدي چې باید په افغانستان کې سوله راشي ځکه چې همیشه جنګ د یو طرف په ګټه نه وي کله یو خوا غالبه وي او کله بله چې دا بیا د یو خندې مرحلې ته رسیږي نو دواړه خوا وي باید یوه بله لاره ستونزو د حل لپاره ولټوي مونږ ولیدل چې د افغانستان دولت د بهرنیو څواکونو په مرسته و نه شولی کولی چې طالبان که هغه افغانان دي او که په بهرنیو هیوادو پورې تړلي

خارجي قوتونو شتون ضروری دی خو ممکن داسې شرایط شاید طالبان وړاندې کړي چې د دې له پاره یو منظم مهال ویش وټاکل شي چې څه وخت خارجي قوتونه له افغانستان څخه ووزي ځکه چې د ټولو افغانانو همدا هیله ده.

نو زما امید دا دی چې باید دوه کاره وشي او باید د دواړو خواوو تبلیغاتي جنګ بند شي په دوهمه مرحله کې د تبلیغاتي جنګ له ختمیدو سره سم باید اوربند و شي او د اوربند له اعلان سره سم باید د دوی مذاکرات پیل شي د مذاکراتو په نتیجه کې دواړه خواوې بیا کولی شي دوی خپل شرطونه طرحه کړي

پ: مرستیال صاحب! لکه څنګه د حزب اسلامي د مشر حکمتیار له خوا دا غوښتنه شوې ده چې افغانستان ته د اسلامي هیوادونو پوځونه راشي، نو ستاسي په نظر به دا د افغانستان له پاره څومره ګټور وي؟

څ: اول خو زه دا ویلی شم چې که چیرې په پیل کې د امریکایي او نړیوالو څواکونو تر څنګ د اسلامي هیوادونو څواکونه راوستل شوي وای نو مونږ مشکل به حل وی. خو اوس هم که چیرې د حالاتو د څیړلو او امنیت راتلو په خاطر د اسلامي هیوادونو عسکر راوستل شي دا به یو ښه اقدام وي خو دا چې سل په سلو کې دې له افغانستان څخه دا اوسني بهرني پوځونه ووزي او په ځای د پ د اسلامي هیوادو پوځونه راوستل شي نو دا به په اوسني حالت کې یو څه لانجه رامنځ کړي او که چیرې دا کار په تدریجي ډول صورت وموميدا زما په نظر یو ښه کار دی ځکه په یو دم سره د دې څواکونو ایستل او د هغو راوستل ممکن نه دي اول خو دا چې ټول اسلامي هیوادونه به دې ته حاضر نه شي چې خپل پوځونه افغانستان ته راولیږي او بل دا چې د نړیوالې ټولنې موافقه هم ضروري ده.

علم جان پتمل

نیروهای ایتلاف در....

موضوع اذعان داشت که پنتاگون در دنبال کردن دو جنگ همزمان (جنگ عراق و افغانستان) اشتباه کرده است و قول داد که برای جبران این اشتباهات با کنگرهٔ امریکا همکاری کند. سیلوستر رایز، رییس کمیتهٔ اطلاعات مجلس نماینده گان امریکا دربارهٔ سخنان گیتس گفت: وزیر دفاع امریکا در این سخنرانی در مورد موضوع منابع و اینکه در افغانستان منابع کافی شامل پرسونل و تجهیزات برای جنگ با شبه نظامیان وجود ندارد، ابراز نگرانی کرد وهمچنین خواستار کمک‌های بیشتر ناتو شد. یک دموکرات ارشد مجلس نماینده گان امریکا نیز تصریح کرد که گیتس خطاب به این گروه از قانونگذاران امریکایی گفت که تمرکز واشنگتن بر عراق به اقدامات در افغانستان آسیب رسانده است. یکی دیگر از قانونگذاران امریکایی که خواست نامش فاش نشود، نیز گفت که گیتس در سخنانش اظهار داشت: اگرچه نیروهای چند ملیتی شبه نظامیان طالبان را در تنگنا قرار داده‌اند، اما این اقدام باعث شکست این شبه نظامیان نشده است. گیتس همچنین تعهد امریکا در عراق را به کسر منابع در افغانستان مرتبط دانست. برخی از قانونگذاران امریکایی معتقدند که این اظهارات گیتس نشان دهندهٔ این است که وی ممکن است در رویارویی نهایی کنگره با قصر سفید به یک هم پیمان احتمالی قانونگذاران تبدیل شود.

ارزیابی وزیر دفاع امریکا از کسر منابع در افغانستان هم چنین باعث استحکام انتقادهای مطرح شده توسط هیلاری کلینتون، نامزد پیشتاز انتخابات ریاست جمهوری سال ۲۰۰۸ امریکا مبنی بر اینکه جنگ عراق، ارتش امریکا را از دستیابی به پیروزی در افغانستان بازداشت، شود. جف مورل، سخنگوی پنتاگون از اظهارنظر در خصوص نشست خصوصی میان وزیر دفاع و تنی چند از قانونگذاران امریکایی خودداری کرد و تنها به مشکلات لوژستیکی در دو جنگی که امریکا هم اکنون با آن درگیر است، اذعان داشت.

اما گوردون جاندرو، سخنگوی کاخ سفید گفت که دولت امریکا از تمامی اقدامات گیتس حمایت می کند. جاندرو نیز از اظهارنظر در مورد نشست خصوصی وزیر دفاع با چند تن از قانونگذاران امریکایی امتناع کرد و این موضوع را که اظهارات شخصی گیتس با موضع جورج بوش مغایر است، رد کرد. بوش گفته بود: ارتش امریکا هر آنچه که در دستیابی به اهداف خود در جنگ عراق و افغانستان نیاز دارد، در اختیار دارد. جاندرو تصریح کرد: نسبت به این موضوع واقف هستیم که رابرت گیتس به طور کامل از رییس جمهور امریکا حمایت می‌کند. گیتس در کنفرانس مطبوعاتی چند روز پیش خود درمورد تعهد پیمان اتلانتیک شمالی (ناتو) در افغانستان ابراز نگرانی کرد. گیتس گفت: ما با هم پیمانان خود در ناتو در مورد لزوم بر آورده شدن تعهدات کشورهای عضو ناتو در نشست ریگا (پایتخت لتونی) به صراحت سخن گفته‌ایم. در نومبر گذشته ۲۶ کشور عضو ناتو قول دادند که تعهد خود را گسترش دهند.بنابراین خواستار پابندی بین‌المللی گسترده‌تر در این کنفرانس شدند.

حدود ۳۴ هزار و ۷۰۰ سرباز ناتو هم اکنون تلاش می‌کنند تا در افغانستان ثبات را به میان آورند. امریکا حدود ۱۵ هزار و ۱۵۴ سرباز در افغانستان مستقر کرده است. روی بلاتت، یکی از نماینده گان حاضر در نشست خصوصی با گیتس گفت که دیدار خصوصی اخیر وزیر دفاع امریکا با تنی چند از دموکرات‌ها به دنبال نشست خصوصی وی با تنی چند از جمهوری خواهان در ماه گذشته بوده است که در آن نشست موضوع جنگ افغانستان نیز مورد بحث قرار گرفته بود.

قرار می دهند که حاوی تصاویر و اطلاعاتی در مورد افراد یاد شده است.

این دومین بار پس از فروپاشی رژیم طالبان در افغانستان است که نیروهای امریکا یی برای کشتن و یا بازداشت قوماندانان طالبان و القاعده، جایزه تعیین می کند.

نخستین فهرست از این افراد در سال ۲۰۰۱ از سوی نظامیان امریکا یی منتشر شد که قوماندانان ارشد طالبان و القاعده، از جمله اسامه بن لادن، ایمن الظواهری و ملا محمد عمر را شامل می شد. در فهرست جدید منتشر شده از سوی نیروهای امریکا یی مستقر در افغانستان، تنها چند نفر محدود دیده می شوند که از افراد شناخته شده و خبرساز بوده اند، اما شمار بیشتر این افراد کسانی اند که تنها در مناطق تحت فعالیت خود از شهرتی برخوردار هستند.

کرس بلچر، یک سخنگوی نیروهای ایتلاف در افغانستان گفت که برای بازداشت و یا کشتن این افراد از بیست هزار تا دوصد هزار دالر جایزه تعیین شده است. او از این افراد به نامهای "سراج حقانی، انورالحق، ابولیث اللیبی، دکتر امین الحق، طاهر یولداش، ملا صدیق، بیت الله مسعود، دوست محمد، محمد رحیم، قاری بریال و ملا ناصر" یاد کرد.

گفته می شود ابولیث اللیبی کسی است که دو سال قبل همراه با سه تن دیگر از همراهان خود از زندان امریکا بیان در بگرام فرار کرد و طاهر یولداش از مشهور ترین قوماندانان ازبک تبار طالبان است که چندی قبل حامیان و مخالفانش بر سر خروج او از وزیرستان شمالی با هم درگیر شدند.

این فهرست در حالی منتشر می شود که تلاش ها برای مذاکره با طالبان نیز در جریان است.

رییس جمهور کرزی مکرراً از آماده گی مذاکره با مخالفانش در عالی ترین سطح سخن می گوید، اما ظاهراً یکی از مشکلاتی که تحقق عملی مذاکرات را با چالش مواجه کرده این است که نام افرادی که آقای کرزی آنها را به مذاکره دعوت می کند، قبلا در فهرست سیاهی درج شده که از سوی امریکا بیان انتشار یافته است.

نګرانی از فرار مغزها....

قرار داشته و تا چند سال دیگر این روند همچنان ادامه خواهد یافت.

در گزارش بانک جهانی از افزایش "فرار مغزها" از تاجیکستان اظهار نگرانی شده است. به اعتقاد آقای کویلین، این امر به کمبود کدرها در این کشور منجر شده و در سالهای آینده این مشکل بیشتر احساس خواهد شد.

گروګانګیری در جادهٔ ....

را از ناحیه گلو، دست و پا زخمی کرد.

فرد زخمی به شفاخانه انتقال یافته و تحت تداوی قرار گرفته و حال وی رضایت بخش گزارش شده است.

خبرګزاری فارس به نقل از یکی از ماموران پولیس گفته است که شخص گروګانګیر از ماموران متقاعد پولیس بوده و به همین دلیل هم اسلحه در اختیار داشته است.

این خبرګزاری می افزاید که اختلاف گروګانګیر و صاحب فروشګاه از سه سال قبل بر سر سرقفلی این فروشګاه آغاز شده بود.

این دومین ګزارش از گروګانګیری در تهران در خلال دو ماه اخیر است.

در ماه اګست، یک مرد مسلح به یک قبضه کلاشنیکوف هنګام برګزاری مراسمی در تالار ابن سینای پوهنتون تهران وارد این محل شد و به مدت بیش از یک ساعت، حاضران را به ګروګان ګرفت.

ګروګانګیری با دخالت پولیس پایان یافت و اعلان شد که درجریان ګروګانګیری و آزادسازی ګروګانها به هیچکس آسیبی وارد نشده و منابع پولیس ګفتند که فرد ګروګانګیر تعادل روانی نداشته است.

په لوګر کې دري ....

د کلنګار د ولسوالۍ د لارې په اوږدو کې د نامعلومو کسانو له خوا وتښتول شول. د تښتوونکو هویت او غوښتنه تراوسه پورې نه ده معلومه خو وروستي رپوټونه وایي چې د تښتول شویو یوتن چې قاضي دی د تښتوونکو له خوا بېرته خوشي شوی دی.

تعیین جایزه برای کشتن ....

نیروها به بی بی سی گفت کسانی که در این فهرست شامل اند، در شرق افغانستان فعالیت دارند و شهروندان خارجی نیز در میان آنها وجود دارد.

این سخنگو گفت سه صد هزار پوستر را در اختیار مردم